کمیته مستقل مشترک نظارت و ارزیابی

مبارزه با فساد اداری

د اداری فساد پر وړاندي د څارنی او
ارزوني

**Independent Joint Anti-Corruption**
**Monitoring & Evaluation Committee**

# دوهم شپږ میاشتینی راپور

## د اداری فساد  پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه

٤ زمری ١٣٩١

## فهرست

لنډیز: ........ ۳
شالید: ........ ٤
II. اداری کره کتنه: ........ ٤
کمیټه........ ٤
د څارنی او ارزونی د کمیټی سکرتریټ........ ٥
لاس لرونکی (همکاری) ډلی........ ٦
III. روانی کړنی او لاس ته راوړنې ........ ٦
د څارنی او ارزونی د کمیټی تګلاریز (ستراتیژیک) چوکاټ ........ ٦
۱. د سپارښتونو وړاندی کول او د بنچمارکونو جوړول........ ٦
۲. د بنچمارکونود پلی کیدلو څخه څارنه او ارزونه........ ۷
۳. د لا زیات پرمختګ لپاره د پالیسی او عدالت غوښتنی په برخو کی سلا ورکونه ........ ۷
۴. د نړیوالو مرستو د اغیزمنتوب څخه څارنه........ ۷
IV. د سپارښتنو او بنچمارکونو په پلی کیدلو کی پرمختګ ........ ۸
دبنچمارکونو د پلی کیدلو په اړه کره کتنه........ ۸
V. د سپارښتنو او بنچمارکونو د اولی او دویمی ټولګی پر بنسټ د اداراتو ارزونه ........ ۹
د حکومتداری په برخه کی د سپارښتنواو بنچمارکونو پر بنسټ د ادارو ارزونه........ ۹
د فساد پروړاندی د تګلاری پر پلی کیدو د څار ستره اداره (ددی څخه وروسته د څار ستره اداره HOO)........ ۹
د فساد پروړاندی د هڅو یوځای او همغږی کول........ ۹
پیچلی اداری پروسیجرونه ........ ۱۰
د کابل بانک په اړه........ ۱۰
د شتمنیو ثبت او تثبت/باوری کول ........ ۱۰
په افغانستان کی د ملګرو ملتونو د مرستندویه استا زیتوب ماموریت (UNAMA) ........ ۱۰
د افغانستان اسلامی جمهوریت د چارو اداره(OAA)........ ۱۱
د اطلاعاتو او کلتور وزارت ........ ۱۲
دهرات سیمه ایز حکومت........ ۱۲
د فساد د مخنیوئ په برخه کی د بنچمارکونو پر بنسټ د ادارو ارزونه ........ ۱۲
دعدلیی وزارت........ ۱۲
د کرنی مالداری او اوبو ورکونی وزارت:........ ۱۳
د افغانستان بانک........ ۱۳
د مالیی وزارت........ ۱٤
د عمومی تدارکاتو برخه ........ ۱٤
ګمرکونه ........ ۱٤

د ملی امنیت ریاست (NDS) ........ ۱۵
د کانونو وزارت ........ ۱۵
د کابل ښاروالی ........ ۱٦
د قانون پلی کونی په برخه کی د بنچمارکونو پر بنسټ د ادارو ارزونه ........ ۱٦
لویه څارنوالی(AGO) ........ ۱٦
د فساد د قضیو رپوټ ورکونه ........ ۱٦
د کابل بانک په اړه: ........ ۱۷
د کابل نظامی روغتون ........ ۱۸
VI. پایله ........ ۱۹

## لنډیز:

په افغانستان کی اداری فساد د ملی پرمختګ، د حکومت د مشروعیت او دنړیوالو مرستو په وړاندی یوه ستره ننګونه ده. کله چی په افغانستان کی د فساد پر وړاندی د کړنو خپلواکی څارنی او ارزونی ته اړتیا ولیدل شوه نو د فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه (MEC) منځته راغله. دغه کمیټه د خپلی کړنیزی لایحی په اساس مکلفه ده ترڅو ملی ادارو، نړیوالو او بهرنی کومک کوونکو موسسو سره د اغیزمنو پرمختیایی کړنو په پیژندلو او هم د فساد پر وړاندی د څارنو او ارزونو په پروسه کی مرسته او همکاری وکړی.

د څارنی او ارزونی کمیټه شپږ غړی لری چی دری یی د افغانستان د حکومت په وړاندیز او دری نور یی د نړیوالی ټولنی په وړاندیز ټاکل شویدی. د څارنی او ارزونی کمیټه د فساد پر وړاندی ملی او بین المللی ادارو ته سپارښتنی ورکوی او دهمدغه سپارښتنو او بنچمارکونه د پلی کیدلو څخه څارنه او ارزونه کوی؛ همدارنګه کمیټه اړینه ده چی په هرو شپږمیاشتو کی د خپلو کړنو رپوټ ولسمشر، ملی شورا، نړیوالی ټولنی او هم د افغانستان له خلکو سره د رسنیو له لاری شریک کړی.

نوموړی کمیټه په کابل کی یو دایمی سکرتریټ لری چی غړی یی افغانان او بهرنیان دی. د کمیټی سکرتریټ دری څانګی لری (حکومتداری، مخنیوی او د قانون پلی کولو) چی په هره څانګه کی یو بهرنی متخصص، یو افغان سلاکار او یو افسر شتون لری چی بیا د دری واړو څانګو په سر کی یو ستر سلاکار دپالیسی په برخه کی کار کوی او دری واړو څانګو سره په تخنیکی برخو کی مرستی کوی.

د څارنی او اورزونی د کمیتی کاری چوکاټ د کمیتی د غړو د ناستو پر اساس ولاړ دی کوم چی په هرو درو میاشتو کی یو ځل د ۱۵ پنځلس ورځو لپاره په افغانستان کی سره راټولیږی. له کومی نیتی څخه چی کمیټه جوړه شوی تر اوسه پوری یی شپږ ځلی په افغانستان کی نوبتی ناستی لرلی، او هم یی د پروان، هرات او بلخ ولایتونو څخه لیدنی ترسره کړی. د کمیتی غړی د خپل کاری پلان په ټاکلو او جوړولو کی خپلواکه دی او پراخه واک لری چی لاندی څلور برخی پکی شاملی دی؛

١. د سپارښتنو او بنچمارکونو جوړول او وړاندی کول ؛
٢. د سپارښتنو او بنچمارکونو د پلی کیدلو څخه څارنه او ارزونه ؛
٣. د لازیاتو کړنو لپاره د پالیسی اوعدالت غوښتنی په برخه کی سلا ورکونه ؛ او
٤. د بهرنیو د مرستو د اغیزو کره کتنه

تراوسه پوری د څارنی او ارزونی کمیتی حکومتی او بهرنیو ادارو ته د حکومتداری، د فساد د مخنیوی او د قانون د پلی کولو په برخو کی ۵۷ سپارښتنی او ۵۸ بنچمارکونه وړاندی کړیدی چی نږدی ٪۸۱ بنچمارکونه ټول یا تریوه اندازی پوری پلی شوی دی. په ځانګړی ډول د ۵۲ ارزول شوو بنچمارکونو د ډلی څخه ۱۲ (٪۲۳) په ټولیزه توګه پلی شوی ؛ ۳۰ (٪۵۸) تر یوی اندازی پوری پلی شوی؛ ۹ (٪۱۷) پلی شوی نه دی ؛ اود پاتی ۱ (٪۲) نیټه لا تراوسه نه ده بشپړه شوی.[1]

[1] دغه شمیره یا ارقام تراوسه شوی پرمختګ په ګوته کوی ددی لپاره دا شمیره د کمیتی د سپارښتنو او بنچمارکونو د تحلیلی راپور سره چی د می میاشت ۲۰ نیټی ۲۰۱۲ خپور شوی تو پیر لری

## ۱. شالید:

په افغانستان کی اداری فساد د ملی پرمختګ، د حکومت د قانونیت او دنړیوالو مرستو پروړاندی یوه ستره ننګونه ده. افغانستان په وروستیو څو کلونو کی د رونتیا د نړیوالی ټولنی د احصایو په اساس د فساد د نړیوالی لیکی په بیخ/آخر کی ځای موندلی.[۲] په افغانستان کی په ټولیز ډول فساد د ځینو غښتلو عواملو لکه د فساد سره د جګړی په ډګر کی د سیاسی ارادی او هوډ نشتوالی ، د معاشاتو کموالی او د دولتی کارکوونکو ناوړتیا، کمزوری قانونی او اداری جوړښت، د حکومتی ادارو په کړنو کی رونتیا او د حساب ورکونی نشتوالی، او هم د بهرنیو مرستو څخه ناسمه څارنه، په اساس منځته راځی. په ملی او نړیواله سطحه د خلکو د حمایت سره سره تر اوسه پوری کوم ځانګړی پرمختګ په دی برخه کی نه تر سترګو کیږی چی د تیرو لسو کلونو پرمختګونه اود مرستو هڅی له ستونزو سره مخ کړیدی.

د څارنی او ارزونی کمیټه (MEC) د افغانستان د جمهوری ریاست د (۶۱) ګڼی فرمان پربنسټ په مارچ ۲۰۱۰ میلادی کال کی هغه وخت مینځ ته راغله کله چی د فساد پروړاندی د کړنو څارنی او ارزونی ته په نړیوالو کانفرانسونو (لندن، کابل) کی اړتیا ولیدل شوه. د لندن کانفرانس په پایله کی د افغانستان اسلامی جمهوریت له نړیوالی ټولنی څخه د یوی ګډی او خپلواکی کمیټی چی دپالیسۍ برخه کی خپلی سپارښتنی او سلاګانی وړاندی کړی او د وړاندی شوو بنچمارکونود پرمختګ څخه څارنه او ارزونه وکړی، د جوړیدو غوښتنه وکړی چی د د لندن کانفرانس د ګډونوالو له خوا د هرکلی سره مخامخ شوه.

د څارنی او ارزونی کمیټه د خپلی کړنیزی لایحی په اساس مکلفه ده ترڅو ملی ادارو، نړیوالو او بهرنی مرسته کوونکو موسسو ته د اغیزمنو پرمختیایی کړنو په پیژندلو، او هم د فساد پروړاندی د ملی، نړیوالو او مرسته کوونکو موسسو د کړنو څخه څارنه او ارزونه وکړی، او د خپلو کړنو رپوټ ولسمشر، ملی شورا، خلکو او نړیوالی ټولنی ته ورکړی.

د څارنی او اروزنی کمیټه (MEC) د افغانستان د حکومت او نړیوالی ټولنی څخه په بشپړ ډول خپلواکی لری چی دغه خپلواکی کمیټی ته وخت ورکوی ترڅوخپلی ورسپارل شوی دندی په روڼ ډول پرته د نورو د اغیزی څخه سرته ورسوی .

## II. اداری کره کتنه:

### کمیټه

د څارنی او اورزونی د کمیټی (MEC) دری (۳) غړی د افغانستان د حکومت په وړاندیز او دری (۳) نور یی د نړیوالی ټولنی په وړاندیز ټاکل شویدی. د کمیټی افغانی غړی د افغانستان د حکومت پر غوښتنه او بهرنی غړی یی د نړیوالی ټولنی په وړاندی او د افغانستان د اسلامی جمهوریت د جمهوری ریاست په تائید ټاکل کیږی . د کمیټی اوسنی غړی په لاندی ډول دی؛

| <u>افغان ګومارل شوی غړی</u> | <u>بهرنی ګومارل شوی غړی</u> |
|---|---|
| ښاغلی محمد یاسین عثمانی | ښاغلی ډراګو کاس (سلوانیا) |
| جلالتمآب زکیم شاه | آغلی ایوا جولی (فرانسه/ناروی) |
| ښاغلی ډاکتر یما ترابی | ښاغلی ډګروال حسن چودهری (بنګه دیش) |

[۲] د فساد پروړاندی د رونوالی نړیوال لیکه، د دولتداری نړیوال شاخصونه ۱۹۹۶- ۲۰۰۶ چی د نړیوال بانک لخوا نشر شوی


د کمیټی مشری په نوبتی ډول د نړیوالو او افغانی غړو تر مینځ د ۶ میاشتو لپاره مخ په وړاندی ځی.  چی اوسنی مشر/رئیس یی محترم محمد یاسین عثمانی  دی او نوموړی  به  د ۲۰۱۲ میلادی کال تر اکتوبر پوری د کمیټی ریاست په غاړه ولری.

## د څارنی او ارزونی د کمیټی سکرتریټ

د څارنی او ارزونی کمیټه  یو سکرتریټ لری چی د افغانی او بهرنیو کارکوونکو څخه جوړ او په تخنیکی برخو کی د کمیټی سره مرسته کوی ؛      همدارنګه سکرتریټ د بنچمارکونو په  تاکلو/برابرولو او   پیژندنی، د بنچمارکونو د مسؤدی جوړول او د وړاندی شوو بنچمارکونو د تطبیق څخه  څارنه؛ او همدا ډول په داخل د افغانستان کی د فساد په وړاندی د څارنی او ارزونی د کمیټی د کړنو  د یو استازی په توګه دنده سرته رسوی.

د سکرتریټ په سر کی  یو اجرایوی رئیس قرار لری او پخپله سکرتریت  دری  څانګی لری (دولتداری، د فساد څخه مخنیوی او قانون پلی کونه) چی په هره څانګه کی یی یو متخصص، یو افغان سلاکار او یو آفیسر شتون لری. په تخنیکی برخه کی دپالیسی ستر سلاّ کارد سکرتریټ سره او  هم د کمیټی د غړو سره لازمه مرسته کوی. سکرتریټ د ټولو اړونده ادارو سره چی سپارښتنی او بنچمارکونه ورکول شوی له نږدی نه کار کوی ترڅو ددغه بنچمارکونو پلی کیدل  باوری کړی.

د څارنی او ارزونی د کمیټی د سکرتریت آجرائیوی رئیس د ۲۰۱۱ کال د اګست په میاشت  کی په کار وګمارل شو او د سکرتریټ  نور بهرنی  متخصصین ، افغانی مشاورین  او آفیسران  د ۲۰۱۲ میلادی کال د میی تر میاشتی پوری په کار وګمارل شول. د سکرتریت د کارکوونکو   په کار ګمارنه د کمیټی د غړو په مشوره  له اجرائیوی رئیس لخوا  سرته ورسیده.  د کمیټی سکرتریټ تر اوسه پوری په دی نه دی توانیدلی چی  د قانون پلی کولو  او   د فساد د مخنیوی په برخو کی بهرنی  متخصصین په کار وګماری، ددوی د په کار ګمارنی  پروسه روانه ده او په نږدی راتلونکی کی به دا کسان معلوم او په کار وګمارل شی.



### لاس لرونکی (همکاری) ډلی

د څارنی او ارزونی د کمیټی سکرتریټ د څارنی او ارزونی د کمیټی د غړو او نړیوالی ټولنی په مشوری سره غواړی ترڅو د اړونده لاس لرونکی ډلی جوړی کړی چی په هغی کی به دوزارتونو استازی، خصوصی سیکټر، رسنئی، مدنی ټولنی او نړیوال مرسته کوونکی ګډون ولری او دا به د څارنی او ارزونی د کمیټی لپاره د معلوماتو او غېر رسونی یوه لاره وګرځی. ددی ترڅنګ د افغانستان د ملی شورا غړی هم کولی شی چی په دغو ډلو کی ګډون وکړی.

د څارنی او ارزونی کمیټی د ۲۰۱۲ زیږدیز کال د اپریل او میی په میاشتو کی د اړونده ډلو سره مشورتی ناستی سرته رسولی ترڅو ددی ډلو کاری لائحه، کړنی او د خبرو ډول د کمیټی سره څرګند کړل شی. د غه اړونده ډلی د څارنی او ارزونی د کمټی او هم د کمیټی د سکرتریت سره د فساد پر وړاندی د خوځښت او اغیزمنی جګړی او هم د حق غوښتنی په برخو کی خورا مهم رول لوبوی او د کمیټی او د کمیټی د سکرتریټ سره خورا مرسته کوی. د اړوندو ډلو لمړنی رسمی ناسته د ۲۰۱۲ زیږدیز کال د جولای په میاشت کی ترسره شوه .

## III. روانی کړنی او لاس ته راوړنې

### د څارنی او ارزونی د کمیټی تګلاریز (ستراتیژیک) چوکاټ

د څارنی او ارزونی کمیټه ددی لپاره چی د افغانستان د حکومت او نړیوالی ټولنی د فساد پر وړاندی په کړنو کی سمون راولی او د یو بدلون راوستونکی عامل په توګه کار وکړی منځته راغلی. . په ټولیز ډول د څارنی او ارزونی څخه هدف د افغانستان د حکومتی ادارو او هم په افغانستان کی د نړیوالی ټولنی د ادارو په ګړنوکی په ځانګړی ډول هغه کړنی چی د فساد پروړاند یی سرته رسوی، روڼوالی راوستل او هم د ځینو ځانګړ دوسیو څیړل دی چی په پایله کی یو روڼ سیستم منځته راشی.

ددی لپاره چی د څارنی او ارزونی کمیټه د خپلو وړاندی شویو بنچمارکونو او سپارښتنو د پلی کیدو څخه په ښه توګه څارنه وکړی یو پراخ کلنی پلان یی جوړ کړی. د څارنی او ارزونی د کمیټی کړنی او تګلاریز چوکاټ د کمیټی د غړو د دری میاشتنیو ناستو پر بنسټ ولاړ دی، چی په دغه ناستو کی کی د فساد او د فساد پر وړاندی د کړنو بیلګی ترڅو د نویو بنچمارکونو د جوړولو لپاره ترینه کار واخستل شی، راټولیږی. د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټی غړی یوه اونی وړاندی له دی څخه چی په افغانستان کی سره ناستی ولری خپل تیاری نیسی او د لیدنی څخه یوه اونی وروسته خپلی موندنی او رپوټ برابروی. کمیټه د خپل کاری چوکاټ سره سم خپل ۶ میاشتنی رپوټ جوړوی.

د خپل تآسیس څخه تراوسه پوری د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټی غړیو په افغانستان کی ۶ ناستی سرته رسولی چی وروستی یی د ۲۰۱۲ زیږدیز کال د جولای په میاشت کی ترسره شوه. ددی ترڅنګ، تردی دمه د څارنی او ارزونی د کمیټی غړو د پروان (نومبر ۲۰۱۱)، هرات (فروری ۲۰۱۲)، بلخ (می ۲۰۱۲) او پنجشیر (جولای ۲۰۱۲) ولایتونو څخه هم لیدنه کړی چی په دغه لیدنو کی د حکومتی او غیرحکومتی ادارو د جوړښت، د تصمیم نیونی لاری او ددوی د کړنو څخه د ځان سره یادښت اخیستی دی. همدارنګه د د سیمه ایزه حکومتداری د لا ښه والی او پیاوړتیا په موخه ننګونی په ګوته شوی او وړ سپارښتنی او بنچمارکونه وړاندی شوی دی.

د څارنی او ارزونی د کمیټی غړی ددی کمیټی دری میاشتنی اجندا (کاری پلان) په جوړولو کی پراخه واک لری چی لاندنی څلوری برخی احتواء کوی؛

#### ۱. د سپارښتونو وړاندی کول او د بنچمارکونو جوړول

د څارنی او ارزونی کمیټه هغه ټول معلومات چی کمیټه یی په مستقیم ډول د خپلو لیدنو او مرکو له لاری ترلاسه کوی ، او هم دوهمی معلومات چی سکرتریت یی د رپوټونو، سندی ثبوتونو، د رسنیؤ د مقالو او د نوری

هغه ستونزی چې د هیواد د رونوالی سیستم پر وړاندی شتون لری ، معلومات راټولوی او د سپارښتنو او بنچمارکونو جوړولو لپاره ترینه کار اخلی. همدارنګه د سکرټریت د کارکوونکو تعداد زیاتیدل د څارنی او ارزونی د کمیټې سره د د بنچمارکونو په ترتیب اوتعقیب کی مرسته کوی، او هم اغیزمنی سپارښتنی او بنچمارکونه چې د څیړنو په پایله کی لاسته راغلی کمیټې ته وړپیژنی چې دا پخپله د سپارښتنو او بنچمارکونو په باوری کیدو او ورباندی د اعتماد د زیاتیدو سبب ګرځی.

تر اوسه پوری د څارنی او ارزونی کمیټې د د دری (۳) میاشتنیو ناستو په پایله کی ۳ ټولګی سپارښتنی اوبنچمارکونه د افغانستان حکومتی ادارو او نړیوالو مرسته کوونکو ادارو ته وړاندی کړی، او د څلورمی ټولګی سپارښتنی او بنچمارکونه مسؤده تیاره شوی چی په نږدی راتلونکی کی به وړاندی شی.

### ۲. د بنچمارکونود پلی کیدلو څخه څارنه او ارزونه

د څارنی او ارزونی کړنی د سپارښتنو او بنچمارکونو پلی کیدل او نه پلی کیدل جوتوی او همدا ډول ددغو سپارښتنو او بنچمارکونو اغیزمنتوب د فساد پروړاندی او هم د خلکو باور په دغه پروسه باندی ټاکی.

د څارنی او ارزونی کمیټې او د کمیټې سکرټریت د سپارښتنو او بنچمارکونو د پلی کیدو او پرمختګ لپاره د څارنی او ارزونی یوځانګړی سیستم جوړکړی دی. د څارنی او ارزونی کمیټې د خپلی میی ۲۰۱۲ کال د ناستی څخه وروسته د وړاندی شوو دوو ټولګو سپارښتنو او بنچمارکونو د ارزونی رپوټ خپور کړ چې دا پخپله د دغه څارنی او ارزونی د سیستم اغیزمنتوب په ډاګه کوی. همدارنګه کمیټه تصمیم لری ترڅو په لمړی سر کی د ادارو سره د مخامخ کتنو او یا هم لاسته راغلو رسمی لیکونو او په دویم قدم کی د رپوټونو، څیړنو، بریښناپاڼو (انټرنیټ) او د مرسته کوونکو ادارو د اسنادوڅخه د سپارښتنو او بنچمارکونو د پلی کیدلو په اړه معلومات راغونډ او برابر کړی.

### ۳. د لا زیات پرمختګ لپاره د پالیسۍ او عدالت غوښتنی په برخو کی سلا ورکونه

د څارنی او ارزونی د کمیټې سپارښتنی، بنچمارکونه، د دغه سپارښتنو او بنچمارکونو د پلی کیدو د ارزونی رپوټ د پلی کیدلو تحلیل او هم داسی د سکرټریت نوری لاس ته راوړنی کیدای شی چی د پالیسی (کړنلاری) په سطح د فساد پروړاندی د سلا ورکونی د یوی کره منبع په توګه وکارول شی. همدارنګه د کمیټې د سپارښتنو او بنچمارکونو د پلی کیدلو د ارزونی رپوټ چې د ۲۰۱۲ زیږدیز کال د جون په میاشت خپور شو، د ادارو د ارزونی د یوی منبع په توګه حساب او و کارول شی. د دی کمیټې هره سپارښتنه او بنچمارک د فساد پروړاندی یوه سلا او د پالیسی د پراخ چتر برخی کیدای شی. د څارنی او ارزونی کمیټه به د خپل کار په اوږدو کی د ستونزو په پیژندلو او هم دهغوی لپاره د اغیزمنو حل لارو په جوړولو کی د یو د پالسیی جوړونکی په څیر اغیزمن رول ولوبوی. د څارنی او ارزونی د کمیټې ډیر پام به د حکومتی ادارو په دننی او باندنی څارنیز سیستم کی ددرزونو موندل او د کومک کوونکو (ډونرانو) په پروګرامونو باندی غښتلی څارنی ته متوجه وی. د څارنی او ارزونی کمیټه به په راتلونکی څو میاشتو کی د څارنی او ارزونی یوه پروسه پلی کړی چې پر مټ به یې د افغانستان دولت او نړیوالو ټولنی ته دا سپارښتنه وکړی چی په کومو برخو کی خپلی هڅی لا زیاتی متمرکزی کړی.

لکه څرنګه چې د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه یو غیرآجرایوی اورګان دی، لیکن بیا هم د یو بدلون راوستونکی او سلا ورکونی اورګان په څیر خپلو کړنو ته د فساد په وړاندی ادامه ورکړی. د څارنی او ارزونی کمیټه په دواړو برخو یعنی په رسمی ډول د سپارښتنو او بنچمارکونو دوړاندی کولو له لاری او هم په غیر رسمی ډول په ادارو کی سمون راوستلو لپاره د عدالت غوښتنی په برخو کی اغیزمنه واقع شویده.

### ۴. د نړیوالو مرستو د اغیزمنتوب څخه څارنه

د څارنی او ارزونی کمیټه دنده لری ترڅو نړیوالی ټولنی ته د فساد پروړاندی د مرستو د اغیزمنتو لپاره لازمی سپارښتنی او بنچمارکونه ورکړی. البته دغه سپارښتنی به په پالیسی کی د بدلون ، د کړنو او تصمیم نیونی، د لمړیتوبونو په پیژندلو، د تخنیکی مرستو د څرنګوالی او اندازی په ټاکلو او د مرستود شرایطو په تقویت او هم هغه مرستی چې نیغ په نیغه د بودیجی سره مرسته ده، په اړه دی. ددی لپاره چې د څآرنی او ارزونی کمیټه وکړای شی وړاندی شوی سپارښتنی او بنچمارکونه پلی کړی نو لکه څرنګه چې مخکی ذکر شوی د مرسته کوونکو ادارو یوه


اړونده همکاره ډله یې جوړه کړې. د دغې نړیوالې همکارۍ ډلې جوړیدل به د فساد پروړاندې د نړیوالې ټولنې د روڼ توب او حساب ورکونې کاري ډلې (ICTAWG) سره د یومټ په څیر د روڼوالی او حساب ورکونې، دپروګرامونو د بهتره کولو او د فساد پروړاندې د تګلارو (ستراتیژیو) په ترتیب کې مرسته وکړي.

## IV. د سپارښتنو او بنچمارکونو په پلی کیدلو کې پرمختګ

### دبنچمارکونو د پلی کیدلو په اړه کره کتنه

تردې دمه د څارنې او ارزونې کمیټې د خپل کاري چوکاټ سره سم شپږ ځلې غونډې کړې چې ۵۷ سپارښتنې او ۵۸ بنچمارکونه یې د حکومتداری، د فساد څخه د مخنیوی اود قانون پلې کولو په برخو کې حکومتي ادارو او د نړیوالې ټولنې ادارو ته وړاندې کړې دي.

د څارنې او ارزونې کمیټې د ۲۰۱۲ زیږدیزکال د مې د میاشتې د ناستې څخه وروسته د خپلو دوو ټولګو سپارښتنواو بنچمارکونود پلې کیدو ارزونه وکړه. چې په نتیجه کې نږدې ٪۸۱ بنچمارکونه ټول یا تریوه اندازې پلې شوی ول. په ځانګړې توګه د ارزول شوو ۵۲ بنچمارکونو د ډلې څخه ۱۲ (٪۲۳) په بشپړه توګه پلې شوې دي؛ ۳۰ (٪۵۸) تر یو اندازې پورې پلې شوي؛ ۹ (٪۱۷) تراوسه نه دي پلې شوي؛ اوپاتې ۱ (٪۲) نیټه لا تراوسه نه ده پوره شوې[۳].




[۳] دغه ارقام د ۲۰۱۲ زیږدیز کال د مېی د میاشتې د ارقامو سره توپیر لري ځکه چې دغه ارقام د کمیټې د وروستیو کړنو ریوټ دی

## V. د سپارښتنو او بنچمارکونو د اولی او دویمی ټولګی پر بنسټ د اداراتو ارزونه

### د حکومتداری په برخه کی د سپارښتنواو بنچمارکونو پر بنسټ د ادارو ارزونه

### د فساد پروړاندی د تګلاری پر پلی کیدو د څار ستره اداره (ددی څخه وروسته د څار ستره اداره )HOO

د اداری فساد سره د مبارزی د قانون په بنسټ په افغانستان کی د فساد پر وړاندی ترټولو ستره اداره د فساد پروړاندی د تګلاری په پلی کیدو د څار ستره اداره (HOO) ده ، چی په افغانستان کی د فساد پر وړاندی ټولی هڅی باید له دوی سره همغږی شی. نو له همدی کبله په افغانستان کی د فساد له مینځه وړلو لپاره د HOO څخه د زیاتی هڅی او همغږی طمع کیږی. د همدغه اصل په نظر کی نیولو سره د څارنی او ارزونی کمیټی د څار ستری اداری ته ځینی سپارښتنی او بنچمارکونه وړاندی کړی ول. خو له بده مرغه دغی اداری هیڅ کله هم د څارنی او ارزونی د کمیټی سپارښتنو او بنچمارکونو ته هرکلی نه دی ویلی او نه یی هم د ددغی کمیټی د څارنی او ارزونی هڅو ته کوم رسمی ځواب ویلی دی. چی ددی اساسی دلیل د څار د ستری اداری له خوا د څارنی او ارزونی د کمیټی د خپلواکی نه منل او په رسمیت نه پیژندل دی. همدارنګه د څارنی او ارزونی د کمیټی د سپارښتنو او بنچمارکونو په وړاندی د څار د ستری اداری پرله پسی ټیکاو/مخنیوی د فساد پروړاندی ډیر نوښتونه له خطر سره مخ کړی او په افغانستان کی یی د فساد پر وړاندی د عمومی پرمختګ مخه ډب کړیده.

هغه ځانګړی سپارښتنی او بنچمارکونه چی د څار ستری اداری ته ورکول شوی ول په لاندی ډول دی.

### د فساد پروړاندی د هڅو یوځای او همغږی کول

د فساد پروړاندی لمړی ټولګه سپارښتنی او بنچمارکونه په افغانستان کی د فساد پروړاندی د هڅو یوځای کول او د هغوی همغږی کولو پوری اړوند دی. په تیرو څو کلونو کی د فساد پروړاندی په ملی کچه ډیری تګلاری او پالیسی پرته له دی چی په بریالیتوب سره پلی شی، خپلی شوی . د څارنی او ارزونی د کمیټی ۱.۱ ګڼه سپارښتنه او بنچمارک (د فساد پر وړاندی د تګلاری پلی کونکو ادارو ته د فساد پروړاندی د ستراتیژیو (تګلارو) خپرول)؛ ۱.۲ ګڼه سپارښتنه او بنچمارک (د فساد پر وړاندی د ادارو کاری ډلو جوړونه)؛ ۱.۳ ګڼه سپارښتنه او بنچمارک (دفساد پروړاندی د دری لمړیتوبونو پلی کول)؛ ۱.۴ ګڼه سپارښتنه او بنچمارک (HOO باید د فساد پروړاندی د اوسنیو ستراتیژیو (تګلارو) د یوځای کولو د هڅو همغږی وکړی) او ۲.۲ ګڼه سپارښتنه او بنچمارک (د فساد پروړاندی د یو نوی قانون د مسؤدی لپاره د کاری ډلو جوړول)، شامل دی چی دغه ټولی کړنی د څار د ستری اداری په مشری باید سرته ورسیږی .

که څه هم د څار ستری اداری (HOO) ټولو ادارو ته د فساد پروړاندی د مبارزی تګلاره استولی ده چی دا ۱.۱ بنچمارک پلی کول ثابتوی، خو دوی د ستراتیژیو (تګلارو) په یوځای کولو او ساده کولو (بنچمارک ۱.۴) کی کوم پرمختګ نه دی کړی، اوپه عملی ډګر کی یی د ددی ستراتیژیو د پلی کیدلو او همغږی کولو په برخه کی ډیری لږی هڅی کړی (بنچمارک ۱.۲).

سره له دی چی ځینو وزارتونو او ادارو د فساد پروړاندی د تګلارو د پلی کولو لپاره کاری ډلی جوړی کړی دی، خو بیا هم دغه وزارتونه د ځینو اسبابو له کبله لکه د فساد پروړاندی د لمړیتوبونو نه ټاکل او هم د څار ستری اداری نا توانایی ترڅو په دغو ادارو باندی اغیز وارد کړی، نه دی توانیدلی چی د فساد پروړاند تګلاره پلی کړی.

د څار ستره اداره دنده لری ترڅو دفساد پر وړاندی د افغانستان د حکومت د ادارو دری لمړیتوبونه تصویب او ورڅخه څارنه وکړی. د لاسته راغلو رپوټونو پر بنسټ وزارتونو خپل کړنیز رپوټونه د څار ستری اداری ته رالیږلی خوځینی خپلواکه اداری په دی کی پاتی راغلی ترڅو خپل دری لمړیتوبونه وټاکی. ځینی ادارو خپل رپوټونه د څار ستری اداری ته رالیږلی وه خو دغه رپوټونه د څارنی او ارزونی د کمیټی د ۱.۳ سپارښتنی او بنچمارک سره سمون نه درلود، چی د څار د ستری اداری له خوا ونه منل شو او دغه ادارو ته یی بیرته ولیږل. سره له دی چی ځینی حکومتی اداری د خپلو دریو لمړیتوبونو په ټاکلو کی پاتی راغلی، د څار ستره اداره هم ددغو لمړیتوبونو په ټاکلو او ورڅخه څارنه کی پاتی راغلی.

## پیچلی اداری پروسیجرونه

د څار ستری اداری (HOO) ته سپارښتنه شوی ترڅو په حکومتی ادارو کی د پیچلی اداری پروسیجرونو د ساده کونی د نوښت مشری وکړی. په افغانستان کی اوږده او پیچلی اداری پروسیجرونه په حکومتی ادارو کی د فساد سبب ګرځی. دغه پیچلی او اوږد پروسیجرونه حکومتی کارکونکو ته دا لاره یا زمینه برابروی چی دوی په فساد کی ښکیل او د رشوت غوښتنه وکړی. دا د ددی سبب ګرځی ترڅو د خلکو زړونه د حکومت څخه وګرځی او خپل کارونه کمیشن کارانو ته وسپاری او یا هم د خدماتو د ترلاسه کولو لپاره دولتی کارکونکو ته رشوت ورکړی.

د څارنی او ارزونی د کمیټی ۱.۱۴ بنچمارک (دوګړو دحقوقو په هکله د معلوماتو خپرول)؛ ۱.۱۵ (د اداری سمون په هکله د قوانینو بدلون) او ۱.۱۶ (د سمون د پلی کولو لپاره اداری تګلاره) څخه موخی دادی چی وګړو ته د هغوی د حقوقو په اړه معلومات ورکول شی او اداری پروسیجرونه ساده شی ترڅو د فساد څخه ګټه اخستنه کمه شی. د څار ستری اداری (HOO) ته دیو همغږی کوونکی اورګان په څیر رول ورکول شی ترڅو ددغه سپارښتنو او بنچمارکونو د پلی کیدو څخه څارنه وکړی خو تر اوسه په دغه برخه کی ډیر کم پرمختګ شوی دی.

د ادارو د تشکیلاتی جوړښت سمونه او هم په اداری پروسیجرونو کی سمون راوستل او خلک ترینه خبرول ټول هغه څه دی چی کولی شو د څورونکی فساد مخه پری ونیسو. دغه کړنه په ځانګړی ډول د هری اداری پوری خو په ټولیز ډول د څار ستری اداری پوری اړه پیدا کوی. بدبختانه لکه څرنګه چی نور ادارو په دغه برخه کی کوټلی ګامونه نه دی اخیستی، د څار ستره اداره هم نه ده توانیدلی ترڅو دغه کړنه په سم ډول سرته ورسوی.

## د کابل بانک په اړه

د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټی (MEC) د څار ستری اداری (HOO) ته د کابل بانک د شخړی په اړوند هم یوه سپارښتنه وړاندی کړی وه. ۱.۱۳ ګڼه سپارښتنه او بنچمارک (دولتی کارکونکی چی د کابل بانک څخه پوروړی دی) داسی څرګندوی چی د څار ستره اداره (HOO) باید د هغه دولتی کارکوونکو لست چی له بانک څخه یی پورونه اخستی وڅیړی او رسنی/میډیا او اړونده چارواکی باید د موندونو په هکله خبر شی او پر دوی باندی د بندیزونه وړاندیز وشی. خو داسی کومی نښی نه لیدل کیږی چی د څار ستری اداری دا سپارښتنه او بنچمارک پلی کړی وی.

## د شتمنیو ثبت او تثبت/باوری کول

په افغانستان کی د شتمنیو باوری کول یا تثبیت یوه اوږدمهاله لانجه ده چی د قانون په بنسټ د څار د ستری اداری له خورا مهمو او مرکزی دندو څخه ګڼل کیږی. د حکومتی کارکوونکو د شتمنیو څخه رپوټ ورکونه او څرګ معلومول پخپله د حکومتی کارکوونکو د کړنو د روڼ والی او حساب ورکوونی څخه څارنه کوی او ددی سبب ګرځی ترڅو د دوی د حکومتی کړنو څخه د لاسته راغلی شتمنیو څخه څارنه ترسره شی. د څار او ارزونی د کمیټی ۲.۱ سپارښتنه او بنچمارک (د شتمنیو د ثبت او باوری کول په اړه دتفاهم لیکونو( (MOUs) ددی لپاره جوړشوی وه چی د څار ستره اداره خپلو مسئولیتونوپیژندلو ته متوجه شی او اړونده ادارو سره تفاهم لیکونه لاسلیک کړی. خو نوموړی اداری تراوسه ددی بنچمارک د پلی کیدلو په اړه د څارنی او ارزونی کمیټی ته رپوټ نه دی ورکړی او نه هم په عامه توګه داسی معلومات تر لاسه شوی چی آیا د لوړپوړو حکومتی کارکوونکو شتمنی دی تثبیت شوی او د قانون سره سمی خپری شوی وی. سره له دی چی دوه کاله وړاندی د لوړپوړو دولتی چاراواکو شتمنی ثبت او خپری شوی خو بیا هم د شتمنیو ثبت او خپرول د افغانستان د اساسی قانون او د فساد پروړاندی د قانون د غوښتنو سره یوشان نه دی چی ددی برخی څخه خلک په تیاره کی شتون لری او د لوړپوړو دولتی چاراواکو د شتمنیو څخه ناخبره دی.

## په افغانستان کی د ملګرو ملتونو د مرستندویه استا زیتوب ماموریت (UNAMA)

ددی لپاره چی دفساد پروړاندی هڅی بریالی شی نو اړینه ده چی د ملی هڅو سره سره نړیوالی هڅی هم همغږی شی. په افغانستان کی UNAMA د پرمختیای مرستو په برخه کی مرکزی رول لری او دا یواځینی اداره ده چی کولی شی چی د فساد پروړاندی کړنی په ښه توګه همغږی کړی. د څارنی او ارزونی د کمیټی ۱.۵ سپارښتنه او

بنچمارک ( د اداری فساد پروړاندی د یوی نړیوالی تګلاری طرح کول) داسی جوتوی چی  UNAMA باید د نورو نړیوالو مرستندویه ادارو سره  په همغږی داسی  یو کاری پلان طرح کړی چی په افغانستان کی فساد پروړاندی یوه نړیواله او همغږی  تګلاره جوړه کړی.

د څارنی او ارزونی د کمیټی د معلوماتو په اساس، د ملګرو ملتونو اداره UNAMA د نورو مرسته کوونکو هیوادونو او ادارو سره  یوځای په یو سند کار کوی چی  پایلی به یی د څارنی او ارزونی د کمیټی سره شریکی کړی. د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه به نوموړی سپارښتنه او بنچمارک د UNAMA سره څاری ترڅو نوموړی بنچمارک د بشپړپلی کیدو څخه اطمینان ترلاسه کړی.

## د افغانستان اسلامی جمهوریت د چارو اداره(OAA)

د چارو اداره د یو تړونکی اورګان په توګه، د افغانستان  د ټولو ادارو اړیکی د جمهوری ریاست سره نښلوی او هم د لوړ مقام د حکمونو او فرمانونو د پلی کیدو څخه څارنه کوی. ددی اداری مرکزی رول په حکومت کی دی اداری ته دا واک ورکړی  ترڅو د فساد پروړاندی د د هڅو یو کلیدی او همغږی کوونکی ملګری په توګه خپل رول ولوبوی. په همدی ډول د چارو اداره د د څارنی او ارزونی د کمیټی ډیرو سپارښتنو او بنچمارکونو په پلی کیدلو کی  غښتلی رول لری چی دا پخپله په ادارو کی  د داخلی  څارنی میکانیزم پیاوړی  کوی.

د څارنی او ارزونی دکمیټی  ۲.۳ ګڼه سپارښتنه او بنچمارک (په دولتی ادارو کی غیرقانونی مداخلی) ولسمشر ته بلنه ورکوی  ترڅو داسی یو فرمان ټولو اداراتو ته ولیږی چی په  حکومتی ادارو کی د غیر قانونی مداخلو څخه مخنیوی وشی او د همدغو ادارو او د هغوی کارکوونکو ته قانونی اختیار ورکول شی ترڅو د غیرقانونی مداخلو په صورت کی د ولسمشر دفتر ته خبر ورکړی.

د څارنی او ارزونی د کمیټی ۲.۸ بنچمارک (د داخلی څارنی د ظرفیت په هکله لاربښوونی) داسی غوښتنه کوی چی داسی لاربښودنی باید د کورنیو چارو وزارت، د دفاع وزارت، لویه څارنوالی او دفساد پروړاندی د مبارزی ستری اداری ته ورکول شی ترڅو د خپلو داخلی  څارنیزو برخو د ظرفیت د لا پیاوړی کولو په هکله  اړینی کړنی ترسره کړی.

همدارنګه ۲.۱۰ بنچمارک (په سترو / مهمو اداراتو کی د کارکوونکو استخدام) جلالتمآب ولسمشر  ته بلنه ورکوی ترڅوداسی لاربښونی / هدایات وزارتونو او نورو کلیدی ادارو لکه لوی څارونوالی، د څار ستری اداری او  د کنترول او تفتیش عالی اداری ته د مهمو پوستونو د پروسیجرونو د ترتیب، دکارکوونکو د په کار ګمارنی ساختار ، او هغه خلکوپه اړه چی د خپلو دندو څخه  د فساد او یا جرمونو له کبله لیری شوی وی  بندیز ولګول شی  ترڅو بیا دندو ته ونه ګومارل شی.

د ۲.۸ بنچمارک پلی کیدل به د افغانستان ډیری مهمو ادارو کی د داخلی څارنو او څیړونو د پیاوړی کیدلو سبب وګرځی او د  حکومت په عمومی مدیریتی چارو کی غښتلتیا منځته راوړی، چی دا به د  ناسمو کړنو د معلومولو او دفساد په کمښت کی  اساسی  رول ولوبوی. همدا ډول د ۲.۱۰ بنچمارک پلی کیدل به دا څرګنده کړی په هغه اداری کی چی د غیرقانونی کړنو د تحقیق او څیړنی دنده لری، وړ، لایقه او بااخلاقه کسان  په کار وګمارل شی او ورسپارل شوی دندی لکه څرنګه چی غوښتنه شوی سرته ورسوی.

د ۲.۳ بنچمارک په اساس د افغانستان جمهور رئیس ته بلنه ورکړل شوی وه ترڅو د یو حکم په صادرولو سره په ټول دولتی ادارو کی د زورواکو ناقانونه لاس وهنه بنده کړی. تراوسه پوری داسی کوم حکم چی غوښتنه یی شوی وه نه دی صادر شوی، د څارنی او ارزونی کمیټه د چارو د اداری څخه غوښتنه کوی ترڅو دداسی یو حکم په صادرولو کی مرسته او همکاری وکړی.

یو ډله وزارتونو او ادارو چی د څارنی او ارزونی د کمیټی بنچمارکونه یی نه دی پلی کړی، د هغوی په نه خبرتیا د پروسو څخه او هم په دغه ادارو کی د ظرفیتونو کموالی او دهمدغه ادارو د خپلو لمړیتوبونو په ټاکلو کی پاتی راتلل دی.  د څارنی او ارزونی کمیټه دغه کړنی د اړونده ادارو سره په همغږی څاری.

### د اطلاعاتو او کلتور وزارت

عامه معلوماتو ته د لاس رسی قانون یو د هغه اړینو اوزارو څخه دی چی په حکومت کی د د خلکو په وړاندی د روڼوالی او حساب ورکوونی په برخه کی مهم رول لری. ددی اړینتوب په درک کولو سره د څارنی او ارزونی کمیټی یو بنچمارک ۲.۱۷ (معلوماتو ته د لاس رسی د قانون مسؤده) داسی جوته وی چی د افغانستان حکومت باید د عامه معلوماتو ته د لاس رسی قانون پارلیمان ته واستوی.

عامه معلوماتو ته د لاس رسی د قانون مسؤده د اطلاعاتو او کلتور وزارت لخوا جوړه شوی او د ورستنی تغیراتو لپاره د عدلیه وزارت ته سپارل شوی ده. د وزیرانو شورا د ۲۰۱۲ زیږدیز کال د جون په میاشت کی دغه قانون پخپلو لمړیتوبونو کی شامل کړو او د عدلیی وزارت د تقنین ریاست ته یی ورواستولو ترڅو یی د روان کال په دوهمه ربعه کی تر کار لاندی ونیسی. د عدلیه وزارت د تقنین ریاست د نوموړی قانون د مسؤدی څیړنه بشپړه کړی . د څارنی او ارزونی د کمیټی د معلوماتو په اساس به د نوموړی قانون مسوده په راتلونکی څو اوونیو کی پارلیمان ته واستول شی او نوموړی بنچمارک به په کلی توګه بشپړ شی.

### دهرات سیمه ایز حکومت

ددی لپاره چی په یو سیمه ایز حکومتی تشکیل کی د روڼوالی اصل پیاوړی شی، د څارنی او ارزونی کمیټی د هرات ولایت د والی سره په همغږی د فسار پر وړاندی د کړنو سپارښتنی وکړی چی دا به د فساد پروړاندی کړنی به سیمه ایزه توګه غښتلی کړی. . ۲.۱۸ بنچمارک (د ستونزو ارزونه او څارنه) داسی څرګندوی چی د هرات ولایت والی به د ستونزو د ارزونی او د څارنی میکانیزمونه معرفی کړی او د هرات ولایت د والی په دفتر کی د قوانینو سره سم د ستونزو د اوریدو میکانیزم جوړ شی. ۲.۱۹ بنچمارک (د ولایت حکومتی کارکوونکو ته ټریننګ) داسی سپارښتنه کوی چی په هرات ولایت کی ټولو حکومتی کارکوونکو ته د فساد پروړاندی او اخلاقی ذدکړو لپاره باید روزنیز پروګرامونه اماده او پلی شی.

د څارنی او ارزونی کمیټی د خپلو دوه سپارښتنو (۲.۱۸ او ۲.۱۹) د پلی کیدو لپاره د هرات ولایت دادارو څخه لیدنه وکړه او د هرات د والی څخه یی مثبت غبرګون ترلاسه کړ. دا چی د څارنی او ارزونی کمیټه ددی بنچمارکونو د پلی کولو لپاره د منابعو د کمبود په اړه خبره وه. نو د همدی لپاره د UNAMA د غربی زون دفتر دا ومنله چی دوی به هڅه وکړی ترڅو مرسته کوونکی اداری دیته وهڅوی په کوم ځای کی چی اړینه وی له والی سره مرسته وکړی. د څارنی او ارزونی کمیټه به ددی لپاره چی په دی کړنو کی څومره پرمختګ شوی ددی د څارنی او ارزونی په موخه د دی ولایت څخه نوری لیدنی هم ترسره کړی. ددی نوښت بریالی کیدنه په افغانستان کی ډیره اړینه ده ځکه چی دا یوه ازمایښتی نوښت دی او که دا ازمایښت بریالی شو نو بیا به دا په نورو ولایاتو کی هم د فساد پروړاندی عملی شی.

## د فساد د مخنیوی په برخه کی د بنچمارکونو پر بنسټ د ادارو ارزونه

### دعدلیی وزارت

د افغانستان په ادارو کی د قوانینو شته والی او د هغی په اړه د خلکو اګاهی د فساد څخه د مخنیوی بنسټ ګرځی. د څارنی او ارزونی د کمیټی ۱.۱۷ سپارښتنه او بنچمارک (د قوانینو خپرول او لیږدول) دا غوښتنه کوی چی د عدلیی وزارت باید ټول قوانین په رسمی جریده کی خپاره کړی او ټولو حکومتی ادارو ته یی په مرکز او ولایتونو کی په وړیا ډول ولیږی. د عدلیه وزارت د ریوټ په اساس ددغه وزارت د نشراتو څانګه هر کال د ۲۰۰۰ څخه تر ۵۰۰۰ جلده قوانین چاپ او په وړیا ډول یی دولتی ادارو ته په مرکز او ولایاتو کی استوی.

د عدلیې وزارت یو د هغه وزارتونو څخه دی چې د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټی سره یې د بنچمارکونو او سپارښتونو د پلی کیدو په برخه کې په وخت او همیشه نی همکاری کړی ده. دعدلیې وزارت خپل ټول قوانین له خپلی رسمی ویب پاڼی له لاری په دواړو رسمی ژبو او هم په انګلیسی ژبه خپروی. د ویب پاڼی په کار اچول د خلکو د اګاهی د کچی د لوړتیا او همدا ډول د حکومتی کارکوونکو لاس رسی قوانینو ته زیاتوی. باید وواېو چې ۱.۱۷ بنچمارک د عدلیه وزارت له خوا په بشپړه توګه عملی شوی دی.

د د څارنی او ارزونی د کمیټی ۱.۲۹ بنچمارک (د بانک معلوماتو ته د پولیسو د لاس رسی پیاوړی کول) د داسی قوانین د جوړیدو غوښتنه کوی چې پولیسو او د فساد پروړاند د تګلاری پر پلی کیدو د څار ستری اداری ته واک ورکړی چې په افغانستان کې د بانکداری معلوماتو ته لاس رسی پیدا کړی. تراوسه پوری د عدلیه وزارت څخه په دی اړه کوم ریوټ نه دی رارسیدلی خو د افغانستان بانک هغه ریوټ چې د خپلی څارنی په هکله یې راستولی وایی چې دا سپارښتنه او بنچمارک نه دی پلی شوی. او د افغانستان بانک دغه مسأله د خپل حقوقی سلاکاری څانګی سره شریکه کړی چې د بنچمارک د بشپړیدلو یوه پیلامه په ګوته کوی.

## د کرنی مالداریٔ او اوبو ورکونی وزارت:

د ځمکو په زورنیونه (غصب) په افغانستان کې لا تر اوسه یوه غټه ستونزه ده او په دغه برخه کې د زورواکانو د شتون له امله دغه موضوع د افغانستان د حکومت لپاره یوه ډیره ګرانه ننګونه ده . د افغانستان په سیاسی سیستم کې د زورواکانو شتون او هم په غیر رسمی ډول د زورواکانو لخوا د خپل قدرت څخه ناوړه ګټه اخستنه د افغانستان د بیا ودانولو پروړاندی د ناامنیی یو غټه برخه جوړوی. د څارنی او ارزونی ۱.۱۸ بنچمارک (د معیارونو د پلی کولو څخه ریوټ) د زراعت د وزارت د افغانستان د ځمکو د اداری (اراضی) ته سپارښتنه کوی ترڅو د ځمکو د زورنیونی معیارونه چې د فساد پروړاندی د افغانستان په ملی تګلاری کې ذکر شوی پلی کړی؛ او ۱.۱۹ بنچمارک (د ځمکو زورنیونی د ستونزو په هکله ریوټونه) د زراعت وزارت ، د فساد پروړاند د تګلاری پر پلی کیدو د څار ستره اداره او د کابل ښاروالیٔ څخه غوښتنه شوی چې دوی د ځمکو د زورنیونی او د هغه پروړاندی د تدابیرو په هکله لنډ سندونه تیار کړی.

د څارنی او ارزونی د کمیټی د ۱.۱۸ سپارښتنی او بنچمارک په ځواب کې اراضی د ځمکو د ستونزو په هکله خپل ریوټ دغی کمیټی ته راستولی دی. د اراضی اداری د ځمکو د شخړو ریاست ته دا صلاحیت ورکول شی ترڅو د ځمکو د زورنیونی ستونزو ته رسیدګی وکړی. تردی دمی دغی اداری تقریباً ۶۰،۰۰۰ جریبه ځمکه ( ۱۲۰۰۰ هکتاره) چې په زور نیول شوی وه دوی د غصب څخه خلاصه او مصادره کړیده.

د څارنی او اروزنی د کمیټی د ۱.۱۹ بنچمارک په هکله اراضی یوه کمیټه جوړه کړی چې د ځمکو د زورنیونی په ستونزو باندی کار کوی. دی کمیټه ته اختیار ورکول شوی ترڅو د ځمکو د زورنیونی په هکله لنډ سندونه تیار کړی، ددغی ستونزی په وړاندی کومی کړنی سرته رسیدلی، ، لاس ته راغلی پایلی، د راتلونکی کړونو لپاره سپارښتنی او د احتمالی خنډونو او ستونزو په اړه سندونه بشپړ او د څارنی او ارزونی د کمیټی سره شریک کړی.

## د افغانستان بانک

د افغانستان بانک په افغانستان کې د مالی سیستمونو په تنظیم او د فساد د احتمالی شونتیا په له منځه وړولو کی مرکزی رول لوبوی. د کابل بانک کړکیچ اغیزو دا وښوده چې د افغانستان مالی ثبات په بانکی سکتور کی د فساد پوری تړلی دی. ددی لپاره چې احتمالی ستونزی معلومی کړی، د څارنی او ارزونی کمیټی ۱.۲۷ بنچمارک (دکابل بانک په هکله ارزونه) سپارښتنه کوی ترڅو نوموړی اداره د د خپلو څیړونکو، د مالیاتو د څارګری څانګه او د خپلو مسئولو کارکوونکو کارونه وارزوی؛ اوهمدرانګه ۱.۲۸ بنچمارک (د سترو بانکونو لپاره یوه ټول اړخیزه پلټنه) داسی سپارښتنه کوی چې د افغانستان په دری سترو بانکونو کی باید ټول اړخیزی پلټنی ترسره شی چې د افغانستان بانک اداره د څارنی او ارزونی د کمیټی سپارښتنو او بنچمارکونو سره خپله موافقه څرګنده کړی. د افغانستان بانک د ریوټ پر بنسټ تر اوسه پوری د دوو سترو بانکونو ټول اړخیزه څیرنی چې د ۲۰۱۱ کال د جون په میاشت کې پیل او د ۲۰۱۲ کال د مارچ په میاشت کې بشپړی شوی، سرته رسیدلی . همدارنګه د افغانستان بانک

اداره د ریوټ پر بنسټ ټول اړخیزه څیړنه ډیرو منابعو او پرمختللی تخنیکی مهارتونو ته اړتیا لری، په داسی حال کی چی مرکزی بانک او نور تجارتی بانکونه په کافی اندازه مالی او بشری منابع نه لری ترڅو ټول اړخیزی څیړنی مخ په وړاندی بوځی نو له همدی کبله د افغانستان بانک په ۱۰ نورو بانکونو کی احتیاطی (prudential) څیړنی سرته رسولی.

د څارنی او ارزونی د کمیټی د ۲.۷ بنچمارک په هکله (د پیسو د پاکولو په قانون کی د پیسو بهرته د ویستلو په هکله بدلون) د افغانستان بانک ریوټ ورکړی چی پربنسټ یی ۱۷ بدلونونه په ذکر شوی قانون کی منځته راغلی او په نږدی راتلونکی کی به د عدلیه وزارت ته د کتنی لپاره واستول شی. همدارنګه د عدلیه د وزارت د دغه قانون کره کتنه په خپل کاری پلان کی ځای پرځای کړیده. په همدی حال کی د افغانستان بانک د وزیرانو د شورا څخه غوښتنه کړی وه چی یو کس په یو وخت کی کولی شی ۲۰،۰۰۰ امریکای ډالره له ځان سره بهر ته یوسی چی دغه غوښتنه یی د وزیرانو شورا څخه منل شوی ده. همدارنګه ددی بنچمارک پلی کیدل به په راتلونکی کی د هیواد څخه د غیر قانونی پیسو د ویستلو څخه مخنیوی وکړی.

### د مالیی وزارت

په افغانستان کی د فساد پروړاندی هڅو کی د مالیه وزارت مرکزی رول لری ځکه چی د مالیه وزارت د مالی پالیسیو د پلی کیدلو او د هغی څخه د څارنی ، اوهمدارنګه د بودیجوی پروګرامونو د برابرولو مسئولیت په غاړه لری. د څارنی او ارزونی کمیټی یو لړ سپارښتنی او بنچمارکونه ددغه وزارت مختلفو څانګو ته وړاندی کړی. په ټولیز ډول سره ویلای شو چی د مالیی وزارت د څارنی او ارزونی د کمیټی د سپارښتنو او بنچمارکونو د پلی کولو سره خپله علاقه څرګنده کړی.

#### د عمومی تدارکاتو برخه

د اداری فساد په لړ کی د دولتی یا عمومی تدارکاتو برخه ډیره زیاته فساد ته چمتو برخه ده او د خطر په څنډو کی ځای لری. په دولتی ادارو کی ډیری وخت د داسی خلکو کمښت چی د فساد کړنی وموممی، کشف یی کړی او هم د اغیزمن رونټوب مدیریت پلی کړی ترڅو داخلی کنترول منځته راوړی، لیدل کیږی. د تدارکاتو اوسنی نافذ قانون (اوس یو نوی قانون طرح شوی دی) ډیر پیچلی او ناڅرګندی برخی لری چی فساد ته د اسانتیاوو په برابرولو کی مرسته کوی. همدا ډول ځینی کومک کوونکی اداری چی زیاتره یی د بیاودانی په برخه کی کار کوی، او د خپلی خوښی کړنی د افغانستان د حکومتی بودیجی څخه د باندی سرته رسوی، او هم تر اوسه په دی نه دی توانیدلی چی د خپلی کړنی د حکومت د تدارکاتی پروسی سره سمی کړی، دفساد لپاره نوی موقع پیدا کړی.

د څارنی او ارزونی د کمیټی ۱.۲۰ بنچمارک (د تدارکاتی کارکوونکو پیژندنه او هغوی ته د زده کړی پروګرامونه )؛ ۱.۲۱ بنچمارک (د عمومی تدارکاتو په قانون کی بدلون راوستل)؛ او ۲.۱۱ بنچمارک (د مالیه وزات د عمومی تدارکاتو د څانګی په ځانګړی ډول د شکایاتو او بررسی د کمیټی پیاوړی کول )، په اړه سپارښتنه کوی. د څارنی او ارزونی د کمیټی د بنچمارکونو پر بنسټ د مالیه وزارت د عامه تدارکاتو په برخه کی د پام وړ روزنیز پروګرامونه ځینو دولتی ادارو او همد ډول موسیساتو ته اماده او پلی کړی دی. ۱.۲۰ بنچمارک د یو کاری ډلی د جوړښت په هکله سپارښتنه کوی چی په د تدارکاتو په قانون کی بدلونونه منځته راوړی. همدارنګه د تدارکاتو د پالسی د څانګی پیاوړی کول ، په دغه برخه کی د کارکونکو د ظرفیت لوړوالی د زده کړی د پروګرامونو له لاری سپارښتنه شویده . ددی ترڅنګ د څارنی او ارزونی د کمیټی ۱.۲۲ بنچمارک د شفافیت د اداری څخه غواړی ترڅو د نړیوالی ټولنی کړنی د تدارکاتو په برخه د نوی قانون سرهمغاړی کړی، او تر هغی چی دغه کړنی سره همغاړی نه شی نو د تدارکاتو نوی قانو په سمه توګه پلی کیدلای نه شی.

#### ګمرکونه

د مالیه د وزارت د افغانستان د ګمرکاتو څانګه د هیواد د اقتصادی ودی په برخه کی یو خورا ارزښتناکه او د افغانستان د دولت لپاره د عایداتو د لاسته راوړلو ترټولو مهمه اداره ګڼل کیږی. د افغانستان د ګمرکاتو په اداره کی د فساد د شتون له کبله دغی اداری خپل شهرت له لاسه ورکړی دی او هم یی د افغانستان پر عایداتو له دغی برخی څخه منفی اغیزه لرلی ده. د څارنی او ارزونی کمیټی په ځانګړی ډول خپلی سپارښتنی د ځینو بنچمارکونو له لاری د

ګمرکاتو اداری ته وړاندی کړی. د څارنی او ارزونی د کمیټی ۱.۷ بنچمارک (د ګمرکاتو د قانون بیا کتنه)؛ ۱.۸ بنچمارک (د پلټنی لپاره په سرحدی پولو او څارخونو کی د نوی ټیکنالوژۍ برابرول)؛ ۲.۴ بنچمارک (دګمرکاتو د چارواکو سهولتونو ته لاس رسی)؛ ۲.۵ بنچمارک (د ګمرکاتود چارواکو لپاره امتیازات)؛ او هم ۲.۶ بنچمارک (د ځینو نظامی تړونونو په اساس د مالیاتو څخه د معافی په برخه کی د مالیاتو څخه د ناوړی ګټه اخستنی څخه ژغورنه ) په اړه دی.

هغه سپارښتنی چی د څارنی او ارزونی د کمیټی له خوا د افغانستان د ګمرکاتو څانګی ته شوی، دغه څانګه توانیدلی ترڅو ځینی بنچمارکونه په بشپړډول او هم ځینی بیا تر یو حده پوری پلی کړی. د افغانستان د ګمرکاتو د څانګی دوامداری څارنی او هوډ څخه داسی څرګندیږی چی دغه څانګه به د څارنی او ارزونی د کمیټی ډیری سپارښتنی او بنچمارکونه بشپړ کړی. ددی ترڅنګ د مالیاتو څخه معافیت او بښنه دی څانګی لپاره یوه غټه ستونزه ده، لیکن د نړیوالی ټولنی لخوا د سیاسی هوډ د نشتوالی له کبله دا ګرانه ښکاری چی دا سپاښتنه دی بشپړه او یا هم پلی شی. سربیره پردی د افغانستان د ګمرکاتود څانګی د څارنی او ارزونی د کمیټی ددی سپارښتنی په وړاندی پاتی راتلل چی یوه نړیواله د آزموینی کمپنی چی مالونه وارزوی وګوماری او همدا ډول ګرځنده آزموین خونی چی په سرکونو او انبارځایونو کی د وارداتو مالونو د ټیټ کیفیت څخه کنټرول او ارزونه وکړی، د پانګه د شتون پوری تړلی بولی.

## د ملی امنیت ریاست (NDS)

همدارنګه د څارنی او ارزونی کمیټی د ګمرکاتو د مسآله پور اړوند ۱.۹ بنچمارک (ګرځنده کاری قوه) سپارښتنه کوی ترڅو ګرځنده کاری ګروپ د سوداګرۍ وزارت، مالیی وزارت، د داخلی چارو وزارت، د څار ستری اداری، د ملی امنیت ریاست او د افغانستان د معیارونو ملی اداری د غړو څخه جوړ او د ځینو ورداتی توکو د کیفیت او کمیت څخه څارنه او ارزونه وکړی.

په لمړی سر کی د فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی کمیټی (MEC) په دی موضوغ کی ملی امنیت نه وو ګډ کړی، خو داچی د مالیی وزارت داسی څرګنده کړی چی ددی سپارښتنی د ناکامیدلو دلیل د ګمرکاتو د عمومی ریاست کی د ظرفیت نیشتوالی اوددغی سپارښتی د پلی کیدو لپاره زیاتو منابعو ته ضرورت دی دی، نو د افغانستان د ملی امنیت ریاست د یوی کمیټی په جوړولو پیل وکړ. دغی کمیټی تر اوسه پوری خپل کار نه دی پیل کړی .

## د کانونو وزارت

د کانونو سکتور د افغانستان په اقتصادی ودی کی ډیر امید بښونکی سکتور ګڼل کیږی. د کانونو ډول ډول ستری زیرمی ددی ضمانت کوی چی په راتلونکی کی د افغانستان اقتصادی وده پرته له بهرنیو مرستو دوام پیدا کولی شی. نو له همدی امله ډیره اړینه ده ترڅو د دی سکتور ټولی کړنی باید قانونی، څرګندی، رڼې او په سپیڅلی ډول پلی شی، چی دا به د هغه ټولو شریکانو چی افغانستان د کانونو په سکتور کی کار کوی د ریښتینی عوایدو کچه تضمین کړی. د همدی لپاره د څارنی او ارزونی کمیټی د کانونو په برخه کی یو لړ سپارښتنی او بنچمارکونه وړاندی کړی. ۲.۱۲ بنچمارک (د کانونود ویستلو د ملی پالسی جوړونه)؛ ۲.۱۳ بنچمارک (د کانونو د قراردادونو باندی د غږیدلو لپاره د سترو او وړ قانون پوهانو به کار ګمارنه)؛ ۲.۱۴ بنچمارک (د کانونو په برخه کی د فساد پر وړاندی د ملی او نړیوالو معیارونو په نظر کی نیول)؛ او ۲.۱۵ بنچمارک (د کانونو وزارت د ویب پاڼی له لاری د قراردادونو خپریدل) شامل دی.

د څارنی او ارزونی د کمیټی د سپارښتنو او بنچمارکونو په پلی کولو کی د کانونو وزارت د افغنستان د دولت د هغو ادارو څخه یوه ده چی سپارښتنی یی پلی کړیدی. د هغه پینځو (۵) بنچمارکونو څخه چی د څارنی او ارزونی کمیټی دی وزارت ته وړاندی کړی ، ۲ سپارښتنی او بنچمارکونه په بشپړ ډول پلی شوی او ۳ نور یی تر یوه حده پلی شوی. دا جوته ده چی د روڼتیا او حساب ورکونی د لا پیاوړتیا په برخه کی د کانونو وزارت د پام وړ ګامونه لکه له ویب پاڼي له لاری د تړونونو په هکله د لا زیاتو معلوماتو خپرول اوهم د څارنی او ارزونی د کمیټی سپارښتنو او بنچمارکونو او دهغی څخه دوامداره څارنه په دغه برخه کی د کارونو د لا پرمختګ سبب ګرځیدلی دی. ددی ترڅنګ دافغانستان د استخراجی صنایعو د روڼتیا د نوښت رامنځته کیدل هم د کانونو په وزارت کی د فساد

چانسو په کمیدلو کی مرسته کړی. کوم ګامونه چی د کانونو وزارت د فساد پر وړاندی پورته کړی ددی نه څرګنده ده چی په راتلونکی کی به دغه وزارت د څارنی او ارزونی د کمیټی سره یوه پیاوړی ملګری اوسی.

## د کابل ښاروالی

د اداری پروسیجرونو د ساده کوونی په برخه کی یو هم د ودانیو د جوړولو اجازه ورکول دی. د څار ستری اداری د څیړنی پر بنسټ چی په کال ۲۰۱۰ کی یی د ودانیو د جوړولو د اجازه اخستنی په برخه کی سرته رسولی وه، دا روښانه کوی چی د ودانیو د جوړولو لپاره د جواز اخستل یو ډیر ستونزمن کاردی. د څیړنی په اساس که ودانی د تجارتی موخو لپاره وی (۶۰۹ ګامونو یا مرحلو ته اړتیا لری او ۴.۵ کاله وخت نیسی) که د اوسیدونی لپاره (۹۰ ګامونو یا مرحلو ته اړتیا لری او ۱ کال وخت په بر کی نیسی)، چی په نتیجه کی دا ډول اوږدی ستونزمنی اداری پروسی دولتی کارکوونکو ته د فساد موقع برابروی.

په ځانګړی توګه د څارنی او ارزونی د کمیټی ۲.۹ بنچمارک (د ودانیو د جوړونو اجازه پاڼو د لاس ته راوړلو د پروسی ساده کوونه) د ودانیو جوړولو د اجازه پاڼه د اخستنی په برخه کی د اداری پروسیجرونو پوری اړه لری. د څارنی او ارزونی کمیټی تر اوسه پوری په دی اړه د کابل ښاروالی څخه کوم رپوټ نه دی ترلاسه کړی خو د یو تعداد ناستو څخه دا جوته شوی چی د کابل ښاروالی او د فساد پروړاندی د تګلاری پر پلی کیدو د څار ستری اداری په دغه پروسه باندی کار پیل کړیدی.

## د قانون پلی کونی په برخه کی د بنچمارکونو پر بنسټ د ادارو ارزونه

په افغانستان کی د قانون حاکمیت، پلی کول او د یو سالم قضایی سیستم موجودیت د هیواد د راتلونکی ټیکاو لپاره ډیر اړین دی. خو ددی برعکس د قضایی سیستم کمزوری د پوښتنی لاندی او د قانون د پلی کولو په وړاندی خنډونه منځته راوړی. د قانون پلی کونی په برخه کی د څارنی او ارزونی د کمیټی د بنچمارکونو د پلی کیدلو په وړاندی په ادارو کی ځنی اداری او سیاسی خنډونه شتون لری چی د قانون پلی کونی په برخه کی د روڼتیا د پیاوړی کیدلو څخه مخنیوی کوی. د څارنی او ارزونی کمیټی یو لړ عوامل چی په ادارو کی د روڼوالی او حساب ورکوونی د پرمختګ او هم د مخنیوی په برخه کی شتون لری په ګوته کړی.

## لویه څارنوالی(AGO)

د افغانستان لویه څارنوالی په افغانستان کی د قانون د پلی کونی په برخه کی خورا ارزښتناکه رول لری. په لویه څارنوالی کی دننه هغه ادره چی په ځانګړی ډول د اداری فساد پروړاندی کارکوی د فساد پروړاندی د ځانګی (ACU) په نوم یادیږی. نوموړی اداره ددی واک لری چی د فساد پوری اړونده د سترو قضیو څیړنه او څارنه وکړی. د فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د کمیټی په تیر یو کال کی د کابل بانک، سردار داؤد خان نظامی روغتون او د فساد د هغو قضیو چی د پولیسو د اداری له خوا، د څار ستری اداری، اوهم د کنټرول او د تفتیش د ستری اداری له خوا د افغانستان لویی څارنوالی ته رپوټ ورکول شوی، په هکله لوی څارنوالی ته ۷ سپارښتنی او بنچمارکونه وړاندی کړی.

د د څارنی او ارزونی د کمیټی د سکرتریت لخوا د لوی څارنوالی څخه په دوامداره ډول د لیدنو او رسمی مکتوبونو له کبله په لوی څارنوالی کی د فساد پرړواندی ځانګه (ACU) دی ته چمتو شوی د بنچمارکونو د پلی کیدلو په برخه کی لا ډیره ځواب ورکونکی اوسی. د بنچمارکونو پلی کیدل به په لویه څارنوالی کی د روڼوالی او حساب ورکوونی او هم د فساد د قضیو په اغیزمن ډول د څیړنو سبب شی .

### د فساد د قضیو رپوټ ورکونه

د څارنی او ارزونی د کمیټی د ۱.۱۲ بنچمارک (د اداری فساد اړونده ثبت شوی قضیو په هکله د لوی څارنوالی رپوټ) د پلی کیدلو لپاره د کمیټی د قانون پلی کوونکی ځانګی په کراتو د لوی څارنوالی د فساد پروړاندی دځانګی څخه لیدنه کړی ترڅو د ټولو هغو قضیو په اړه چی په لوی څارنوالی کی د فساد پوری اړوندی دی ، معلومات ترلاسه او دهغوی په هکله د شوو کړنو څخه باخبره اوسی. په دی ورستیو کی د څارنی او ارزونی د کمیټی د قانون پلی کونی ځانګی د جون په میاشت کی د لوی څارنوالی څخه لیدنه وکړه او په دی وتوانیدل ترڅو د هغه دوسیو د

ارقامو په اړه چی د پولیسو د اداری له خوا، د څار د ستری اداری او هم د کنترول او تفتیش د ستری اداری له خوا په کال ۱۳۸۸ څخه تر ۱۳۹۰ پوری لویی څارنوالی ته لیږل شوی وو، په هکله معلومات ترلاسه کړی، چی خپله د فساد د قضیو په اړه د رپوټ ترلاسه کول ددی سپارښتنی او بنچمارک د بشپړ پلی کیدو په معنی دی. د لوی څارنوالی څخه د رپوټ ورکړل شوو ارقامو څخه داسی جوتیږی چی ۱۳۸۹ نه ۱۳۹۰ پوری د کنټرول او تفتیش ستری اداری لخوا د فساد پوری اړوند ۱۲ قضیی لوی څارنوالی ته لیږل شوی چی ۶ یی خارج شوی او ۶ نور یی د څیړنی لاندی دی؛ د څار ستری اداری له خوا د ۱۳۸۸ نه تر ۱۳۹۱ پوری ټولی ۳۴ قضیی لوی څارنوالی ته لیږل شوی چی له دپلی څخه یی ۸ محکمی ته لیږل شوی، ۷ یی خارج شوی، او ۱۴ قضیی لا تراوسه په کابل او ولایتونو کی د څیړنی لاندی دی او همدارنګه ۵ قضیی بیرته د څار ستری اداری ته لیږل شوی؛ او همدا ډول د کورنیو چارو وزارت د ۱۳۸۸نه تر ۱۳۹۱ پوری ټولی ۲۸ قضیی لوی څارنوالی ته لیږلی چی د دپلی څخه یی ۸ نهایی شوی او محکمی پری خپل پریکړه کړی، ۱۳ قضیی د لوی څارنوالی په مختلفو څانګو کی د څیړنو لاندی دی او ۷ قضیی خارج شوی دی.

لوی څارنوالی پخپل رپوټ کی یوی غټی ستونزی ته اشاره کوی او هغه دا چی په افغانستان کی د فساد د قضیو په اړوند د قانون په پلی کولو کی ستونزی وجود لری. په داسی حال کی چی په ټوله نړی کی هم د فساد پر جرمونو محکومیدل ډیر کم/ټیټ دی، په افغانستان کی د څار ستری اداری چی په افغانستان کی د فساد پروړاندی ترټول ستره اداره ده، په تیرو ۴ کلونو کی یواځی ۸ د فساد اړونده قضیی لوی څارنوالی ته وړاندی کړی چی دغه ارقام په اوسط ډول ډیر کم/ټیټ ارقام په ګوته کوی.

د څار ستری اداری پخپله په خپل وروستی رپوټ کی (لمړنی څیړنی) په ۱۳۸۹کال کی ۲۱۶ قضیی څیړلی چی دهغی ددپلی څخه ۳۴ قضیی یی لوی څارنوالی او نورو اړونده ادارو ته استول شوی دی؛ او هم په کال ۱۳۹۰ کی یی ۲۵۱ قضیی پلټلی دی چی ددپلی څخه یی ۳۲ قضیی لوی څارنوالی او نورو اړونده ادارو ته لیږلی دی. د ارقامو دغه توپیرونه به د دڅارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټی له خوا وڅیړل شی او په خپل راتلونکی ۶ میاشتنی راپور کی به یی ځای پرځای کړی.

**د کابل بانک په اړه:**

د څارنی او ارزونی کمیټی د کابل بانک د ستونزی پوری اړوند بنچمارکونو د پلی کولو په هکله چی ، ۱.۲۳ بنچمارک (جینایی څیړنه)؛ ۱.۲۴ بنچمارک (د شتمنیو نیونه) او ۱.۲۵ بنچمارک (د رسمی پور اخستونکو د نومونو خپریدنه) په اړه دی د لوی څارنوالی د فساد پروړاندی د څانګی څخه مرسته ترلاسه کړی.

د لوی څارنوالی د فساد پر وړاندی څانګی (ACU) د کابل بانک د قضیی په هکله دوه رپوټونه چی ددغه بانک د سترو پوراخستونکو، د پور اندازه او د اوسنی پرمختګ په هکله معلومات لرونکی دی، د څارنی او ارزونی کمیټی ته وړاندی کړی دی. په دغه برخه کی د ښکاره پرمختګ علت د نړیوالی ټولنی ډیره لوالتیا او یا هم د افغانستان له دولت لخوا سیاسی ملاتړ دی چی غواړی دغه قضیه حل شی. د لوی څارنوالی رپوټونه جوتوی چی تر یوه اندازی پوری د کابل بانک پورونه بیرته راټول شوی، او د پور اخستونکو شتمنی په هیواد کی او د هیواد څخه دباندی پیژندل شوی او ارزول شویدی. د کابل بانک د قضیی په هکله د ولسمشر د فرمان (شمیره ۲۸۱ په ۱۳۹۱/۰۱/۱۶) پر بنسټ دغه قضیه یوه ځانګړی محکمی ته وړاندی شوی ده چی څیړنی یی اوس هم روانی دی .

ددی ترڅنګ نړیوال وجهی صندوق او د افغانستان د مالیی وزارت د څارنی او ارزونی کمیټی څخه غوښتی ترڅو یوه ټول اړخیزه څیړنه یا پبلک انکوایری د کابل بانک د قضیه په اړه مخ په وړاندی بوځی، چی دغه څیړنه به په کابل بانک کی د ستونزو د رامنځته کیدلو د عواملو په روښانه کولو او هم د پایلو په اړه خلکو ته معلومات ورکړی. ټول اړخیزه څیړنه به د خلکو باور په بانکی سکتور باندی زیات کړی، او د مجرمینو د ښښنی کلتور به له مینځه یوسی.

### د کابل نظامی روغتون

که څه هم د څارنی او ارزونی کمیټه په رسمی ډول د ۱.۳۰ سپارښتنی او بنچمارک (د یوی ګډی څیړنیزی ډلی جوړښت) او بنچمارک ۱.۳۱ (جینایی څیړنی) د سردار داود خان د نظامی روغتون په اړه د پلی کیدو څخه کوم خبر نه دی ترلاسه کړی، خو بیا هم د څارنی او ارزونی د کمیټی د څارنیز بهیر په پایله کی دی نتیجی ته رسیدلی د کابل د نظامی روغتون په هکله یوه ګډه څیړنیزه ډله (JIT) جوړه شویده. نوموړی څیړنیزه ډله (JIT) له لوی څارنوالی، کنټرول او تفتیش اداری، د دفاع وزارت، ملی امنیت او د ښار د ستری اداری د استازو څخه جوړه ده ترڅو دغه قضیه وڅیړی ، چی دغه څیړنه لا تراوسه پوری روانه ده. دغه څیړنیزه ډله د ښار دستری اداری په مشری کی کارکوی او د قضیی په هکله ورځنیهمغږی ناستی لری. سره له دی چی د ښار ستری اداری تراوسه پوری ددی قضیی په هکله د فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی کمیټی (MEC) ته کوم معلومات نه دی ورکړی، خو د لوی څارنوالی د نماینده پر وینا په نوموړی قضیه کی شواهد ډیره کم دی او نړیوالی ټولنی تر اوسه کوم ثبوت او اسناد نه دی وړاندی کړی. له همدی کبله که چیری ثبوت او اسناد پیدا نه شی نو JIT کیدایشی ددغی قضیی د بندیدلو فیصله وکړی یواځی په هغه حالت کی که چیری ثبوت او اسناد پیدا شی یا دوی ته راورسیږی نو د قضیی څیړنه به مخ په وړاندی لاړه شی. البته تراوسه دا هم جوته نه ده چی کوم ډول ثبوتونه او شواهد ISAF ددی قضیی په هکله راغونډ کړیدی. د څارنی او ارزونی د کمیټی د وروستیو معلوماتو پر بنسټ دا جوته شوی چی ګډی څیړنیزی ډلی ځینی نوی شواهد لاسته راوړی چی پر مټ یی لویی څارنوالی د ۶ دوسیو څیړنی تکمیلی کړی او اړونده څارنوالیو ته یی لیږلی او د نورو دوسیو څیړنی به ډیر ژر مکملی شی.

## VI. پایله

د فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د کمیټی دغه دوهم شپږ میاشتنی رپوټ د دغی کمیټی د کړنو او په هیواد کی د فساد پر وړاندی د جګړی په هکله د یوی بدلیدونکی نښی استازیتوب کوی. د کله نه چی د کمیټی سکرتریت جوړ شوی دی کمیټه نوره هم جوګه شوی چی د بنچمارکونو په هکله څیړنیزی کړنی سرته ورسوی او او هم بنچمارکونه او سپارښتنی په پرمختللی ډول سره جوړ او وړاندی کړی.

د سکرټریت ترجوړیدا وړاندی د څارنی او ارزونی کمیټی خپلی سپارښتنی او بنچمارکونه د لمړنیو معلوماتو پر بنسټ چی د مرکو له لاری د دولتی، غیر دولتی او نړیوالو متخصصینو څخه به یی لاس ته راوړل، طرح کول . همدارنګه ځینی بنچمارکونه د افغانستان د فساد پروړاندی د مخنیوی په سیستم کی د شته چوړاخونو (خالیګاوو) څخه ترلاسه شوی یا پیژندل شوی او هم دهغه قضیو څخه رابرسیره شوی چی د خلکو د پام ته د راتلو څخه وروسته پیژندل شوی.

په اوسنی وخت کی د څارنی او ارزونی کمیټی (MEC) خپل پام او هڅی په دی متمرکزی کړی چی هغه چوړاخونه /خلاګانی چی په سیستم کی شتون لری او ادارو د څارنی او ارزونی د کمیټی د بنچمارکونو په پلی کولو کی پیژندلی د هغی ارزونه وکړی او دا معلومه کړی چی د فساد پروړاندی په جګړه کی څومره پرمختګ شویدی. د هغه چوړاخونه / خلاګانی پیدا کول چی په ادارو کی د فساد سبب ګرځی، د څارنی او ارزونی د کمیټی لپاره یو روان / جریان لرونکی کار دی. څومره چی د کمیټی کارونه پر مخ ځی د فساد لاملونه او په سیستم کی د شته خطر ته متوجه برخو په هکله به ژوری ارزونی تر سره شی.

د رونوالی او حساب ورکونی په برخه کی د سیاسی ارادی او هوډ شتون به د ګمرکاتو او معادنو (د ځمکی لاندی زیرومو) د عوایدو کچه په بی ساری ډول لوړه کړی. سره له دی چی دغه اداری په بشپړ ډول د فساد څخه پاکی نه دی ولی بیا هم دوی ځینی سمونونه چی د څارنی او ارزونی د کمیټی لخوا وړاندیز شوی هغه یی منلی او همدا ډول ځینی نوښتونه یی له خپله ځانه هم پلی کړی دی. په نوموړی دواړو ادارو (معادن، ګمرکات) کی روانه سمونه به د دولت د عوایدو بنسټ پیاوړی کړی او د ټولو څخه مهمه د افغانستان اقتصادی ټینګتیا/ثبات به رامنځته کړی.

همدارنګه ځینو هغه ادارو چی د څارنی او ارزونی د کمیټی سپارښتنو ته یی موثره توجه نه ده کړی په دی معنی دی چی د خپلو رونوالی کړنو د تحقق او پلی کیدو په برخه کی یی ځنډ کړی دی. د څار ستره اداره هم چی په افغانستان کی د فساد پرو ړاندی د کړنو د همغږی کولو دنده په غاړه لری د څارنی او ارزونی د کمیټی سپارښتنو ته یی توجه نه ده کړی او آن تر دی چی د کمیټی سره د همغږی برعکس یی د کمیټی سره مخالفت کړیدی. د څار د ستری اداری دا ډول ودریدنه او مخالفت په دغه برخه کی د همغږۍ ستونزی رامنځته کوی چی باید له منځه یوړل شی.

د کورنیو چارو وزارت او د عدلیی وزارت تر یوی اندازی پوری د MEC سپارښتینی او بنچمارکونه پلی کړی او پخپلو ادارو کی یی د روڼتیا د پیاوړی کولو لپاره د نورو نوښتونو څخه هم کار اخستی دی. نو په دی اساس دغه ادارو د فساد پروړاندی په په منځنی ډول بریالی ګامونه اوچت کړیدی. دغه دواړه اداری د افغانستان د راتلونکی ټیکاؤ او ثبات لپاره ډیری ارزښتناکه دی او په دی دواړو ادارو کی د فساد د مخنیوی لپاره ډیرو هڅو ته اړتیا لیدل کیږی. د فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی کمیټه تصمیم لری ترڅو د کورنیو چارو د وزارت کړنی لاډیری وڅاری او خالیګاوی او فساد زیږونکی ځایونه په نښه کړی.

د فساد د مخنیوی په اړه د نړیوالو موسساتو او نړیوالی ټولنی کړنی ډیری ددغه ادارو په تګلارو او مالی کړنو پوری اړه پیدا کوی. د څارنی او ارزونی کمیټی د سپارښتنو او بنچمارکونو په وړاندی کولو سره ددغه ادارو توجه دیته رااړولی او دغه ادارو هم د خپلو تګلارو د همغږی کولو لپاره خپل تیاری ښودلی دی.